پیښتنې لنډې
د جرګې په وخت

دلوپې جرګې په ویاړ

پښتني لنډۍ

تیراژ ۲۰۰۰

چاپ

PROPERTY OF ACKU 6344

خپرونکی ـ د. ا. ج. د. بس نشراتي اداره

یادونه

دلنډ یو دغه رسا له چی دیوی‌لنډی مجمو عی په شکل تر تیب او چاپ ته سپار ل شو ی ده‌زمونږ دهیواد دزیار ایستو نکو خلکـــو دهغو غوره او سپیڅلو دو دو نو درناوی او پالنه ده‌چی‌دهغوی پـــه کلتوری ژوند کی ستر ار زښـــت لری. په او سنی نړ ی لید کی د انسانی ټو لنو او پرګنو ځیړ نـــه دهغوی دفولکلور ی آثارو،اجتماعی اندیښنو اواقتصادی دود او دستور له مطالعی پر ته نیمګړ ی بریښی اولسی اشعار او سندری‌دژو ندانه‌ددغسی اړ خو نو مهمی بر خـــی څرګندوی چی زمو ږ په هیوادکی‌دپښتنو قا مو نو او قبیلو تر منځ دغه بر خه په لنډ یو کی په‌پراخه‌پیمانه څرګنده شوی ده . د غـــه ډول او لسی شعرو نه چی‌دځانته‌وزن او قافیی په قالب کـــــی د نا معلو موو یو نکو له خوا منځته‌راغلی په حقیقت کی دژ و ندا نه دمختلفو اړ خو نو دتر جما نی د پاره دټول اولس ژ بـــه ګـــنهلـــــه کیږی.

له‌ښه مر غه دڅور دپر تمیـــــن‌انقلاب په‌رڼا کی د هیواد دټو لو وروڼو قا مو نو او ملیتونو ژ بی،کلتور او سپیڅلو دودو نو ته د ګوند او دولت کلکه پا ملـــــــرنه او ښتی ده او دغی پا ملرنی‌دافغا نستا ن د خل ک‌دمو کرا تیک‌ګوند په اهدا فو اودد غه ویا ړلی‌ګوند دعمل په‌کړ نلاره کی او همد غـــه‌رنګه دافغا نستا ن دد موکراتیک جمهور ی دو لت په اساســـــــی‌اصولو کی پرا خ انعکا س کړ ی دی په دی لاره کی زمونږ مشعـــــل ګ ر زیدلی دی .دافـغا نستان، د

څوانانو دمو کراتیک‌ساز مـــــان نشراتی اداره دهمد غو منل‌شو یو دستورونو او اصولو په بنیاد ، ویاړ ی چی په دی سلسله کی د لنډ یو دغه لنډه رساله ترتیـب‌او گرانو لوستو نکو ته‌یی‌وړاند ی کوی او پدی مشخصه بر خه کی‌دخپلو وطنی دندو په تر سره‌کولو سره دغو اهدا فو ته درسیدوهڅه‌کوی.

هیله ده چی په‌را تلو نکی‌وخت‌کی وکولای شو زموږ دخلکوددغسی شتمنیو دلا زیا تی پیژ ند گلو ی‌په خا طر نور او چت گا مو نـــه پورته‌کړو دغسی آثار چا پ ، اووطنوا لو ته‌یی وړاندی کړو.

دا.ځ.د.س ادخپرونو اداره

لندی :

ولسی ادب دهرولس‌دادبی‌تخلیق له‌سرچینی څخه لکه داوبو دچینی‌په شان راوځی، به غرونو، چمنو، اودښتونو کی خپل تکاملی بهیر تـه د انسانی ژوند **په‌غیږ کی مخه‌ورکوی.** پاك احساسات ، نازك افکار او د ټولو پرګنو دارمانو دخرګند ولو په‌لاره‌کی لویه او اوچته برخه اخلی.

دادب پوهان نن پـه دی باوری‌شوی چی و لسی ادب دیوی ټولنی دابی ودی په چوکات کی په‌ځانګړیو شرایطو کی د ځانګړی تا ریخی او رسالت منی دندی په غاړه اخلی . په‌تیره بیا دغه دندی په‌ولسی‌ادبیاتو کی هغه وخت ښی خرګندیږی چی‌په ټولنه کی. دطبقاتی استبداد لـمنه خپروی ادبی‌اواولسی ادب‌تل دخلکو دارادی منعکسوونکی او داستـبداد پرضد د مبارزی جنډه او چته کړی ده.

په‌استثنایی شکل دطبقاتو بدمرغیو پرضد پاریږی‌او دخلکوګټوته‌پرخپلو ګټـــــو با ند ی ا همیـت ورکوی مګر کله چی شاعراولیکوال دلو ړی او استثمار ګری طبقی نو کرشی نو بیا ټولنه د ښتینو ادبی ایجاد ګرانو له نشتوالی سره مخامخ کیږی او دټولنی ادبی دنده و لسی ادبیات پرغاړه اخلی او دخپل‌وخت‌ادبی جریان په خپله ار ته لمنه کی بریښوی . ځکه دولسی ادبیا تـــو اهمیت په ځانګړو شرایطو پوری‌اړه لری.

په پښتو ادبیاتو کی هـم ولسی‌ادبیات دنیغی شملی لرونکی د ی ، کله چی ددی هیواد په‌پولو باندی دزاړه استعمارخواله‌دارانو(انګریزانو) بریدونه پیل کړل په دغو جګړوکی‌چی ډیر کلونه دځنډیدی د غـــــو

ادبیاتو په ډیره چتکتیا سره وده وکړه، د محبت ، پښتنوالی . بریالیتوبونو ، ناکامیو اونورو څرګندونو انځوری ګړیږی په خپل وخت کی په خورا سمه توګه کړی ده .

ځکه نو زموږ ددغه وخت ولسی ادبیات دهیواد په دغوسختوشرایطو کی دجګړو په بټیوکی باخه شوی او له یوه نسل څخه بل نسل ته پاتی‌دی .

لنډی په پښتو و لسی ادبیاتو کی دیوه بیل خوند او رنګ‌لرونکی دی . د پښتنو د ژوند انځورګری‌په‌دغه خوږو سندرو کی په پرا خه پیمانی سره شوی ده . کله‌یی‌دمینی‌او محبت غږپورته کړی او کله‌یی دجنګ او جګړی په‌ډګر کی دزلمیو وینی ددښمن په مقابل کی‌را خو ـ ټولی دی ،کله یی دسولی سپیڼو کوترو ته دهرکلی ستړی مه شی ویلی اوکله‌یی بیا دښمن دناپاکو او استعماری هلو ځلو ټپو سان‌په هواکی په خپل تو پانی غږسره لړزولی‌اودی ملیونی‌پر ګنولښکریی دتوری، دال او غیرت سره دننګ‌ډګرته راباللی دی ځکه نودا سمه‌ده، چی په پښتو لنډیوکی د ژوند دهری برخی څر ګندونه شوی ده.

دلنډیو لیکوال او شاعر معلوم‌نه‌وی بلکه دګڼوپر ګنو دارما نو او ارادو په‌ادبی بهیر کی چی دهغوی دژوند څر ګندونی‌کوی اوبر څیره کیږی. د پښتوژبی مال اودپښتون ولس داجتماعی ژوند ادبی ډالی‌ده، دلنډ یو لو مړی او دوهم بیتونه‌یو ډول او په تله تللی نه وی لو مړی نیم‌بیتی یی (۹) سیلابه او دوهم‌یی(۱۳) سیلا بونه‌لری .چی په هره قبیله او سیمه کی بیل بیل آهنګ او وزن لری .

په‌لنډیو کی د پښتنو ژوند داجتماعی او اقتصادی اړیکو څر ګندونه‌شوی‌ده په مختلفو بر خوکی ئی د ژوند عکاسی کړی او حتی‌کله کله‌یی دهیواد دتاریخ ډیری‌حساسی‌مرحلی هم په خپله لمنه‌کی‌رانغښتی دی . لکه دمیوند دډګر د تاریخی پیښی څرګندونه چی زموږ د خلکو دحماسو په تاریخ‌کی لوړ ځای لری همدارنګه دوطن مینه ، طبقاتی څرګندونی ، حماسی ، مینه‌اومحبت، اخلاقی او داسی نوری‌موضوعګانی‌د لنډیو د مضمون ټل ته ورننوتی او په‌بیل بیل ډول‌یی له‌پورتنیومو ضوعاتو څخه انځورګری کړی ده چی اهمیت ئی په ادبی او ټو لنیزه برخه کی ډیر لوړ بلل شوی‌ده. ضروری ده چی په پورتنیو اړ خو

باندی باید بیله بیله رڼا واچول شی ترڅو د پښتو ژبی ددغی ادبی ډالی په زړه کی دڅپل ولس دټولنیزژوندڅیره پەښه تو گەووینو.

یوه ټکی ته باید اشاره وکړو هغه‌داچی دلته چی څه لنډی لوستونکـی لولی دازیاتره د پښتو ژبی د هغـــو لیکوالو د هلو ځلومحصول دی چـی پخوایی راټولی کړی‌وی یواځی‌ډیری لږی‌لنډی‌پەدغو لنډیوکی‌ستەچی‌هغه بەنەوی راغونډی شوی. مگریو څه‌چی دلته پەنظر کی نیول شوی هغـه دادی چی دژوند انه دهری بر خـی‌اړوندی رابیلی شوی اوکیدای شی بەدغه برخی کی نورهم پراختیا یـی‌کارونه سرته و رسیږی .

۱ـ دوطن مینه:

دوطن مینه او دمور مینه که چیری سره پرتله کړو بیا هم‌دوطن‌دمورمینه کیږی چی هرځوك بیا هغه‌ته‌ددرناوی سرټیټوی ، دهغی په مقابل کی دمور، پلار اولاد اوهرځه نه تیریږی اود قربانی په ډګرکی‌په‌پوره غیرت‌سره دریږی ، دا اصل یوا ځی په یوه‌قوم‌او یا یوه هیواد پوری اړه نه لـــری بلکه د هر هیواد زامن دخپل و طن سره دمینی او محبت په روحیی سره روزلَ شوی وی . د ویتنام د خلکـو لارښود په دغه برخه کی یو شعرلری چی پښتو ژباړه یی داسی ده .

ټوله شمال دونو ښاخونه زنگوی،
اونازکی نازکی پانی‌یی ...
نارامه کړی دی .
دلته :
ډیر وخت وسو چی :
هرځه ویده دی .
هو !
خویوائی ز مازړه ویښ دی...
زمازړه کلك دی
ناآرام دی .
زما د زړه ټول غورځی
دویتنام په خاطر دی !!!

که چیری په‌دی ډول افکاروپسی نورهم قلم وخوځو په زر گو نـــو مثالو نه به زمونږلاسته راشی چی‌د هرقام د ملی ویاړنو او دهغوی‌دهیواد

پالنی نماینده‌گی وکړی. څکـه هرهیواد د ملی کارنامو او ملی ویاړنو تاریخ لری اوور باندی ویاړی.زمو هیوادهم یوله هغو هیوادو څخه دی چی دملی ویاړنو په تاریخ کی‌یی، نه‌یواځی نارینه وو بلکه ښځو هم پکی څرګنده بر خه اخستی ده . څکه نودهیواد سره دمینی په اړخ کی د دوی دحماسو او مینی څرګندونه په پښتو لنډیو کی داسی شوی چی په ر ښتیا ددی هیواد د میړنیو خلکو ښکلـی هیله ده .

دوطن غرونه ، دوطن‌سیندونه‌دوی ته دعظمت او دانقلابی ډاډ زیـــری ورکوی، دوی نورهم داسی‌روزی چی دخپل هیواد دغرونو، تر څوکوشین آسمان هم لوړنه بولی . اوهمدارنګه‌دخپل هیواد سیندونو اوبنارونوته چی کله ددرناوی سر ټیټوی نوبیایی په‌لنډیوکی داسی یادوی :

— اباسین راغی غاړی غاړی
په‌سریی راوړل کشمیری د خیـال شالونه

— دکندهار شین ارغنداوه
که یارمی‌راغی کال په‌تاکی تیرومه

— کابل ته مه وایه چی ورانشی
په‌کی پراته دی ښه ځوانان‌کاکه بریتونه

دلنډیو په لنډکی له معنی ډکپلو کی‌د هیواد سره دمینی رنګ رنګ ګلونه لیدل کیږی ځکه نو په دغـــه‌اړخ کی بیله ځانګړ تیالری ، چی نه یواځی موږ ور باندی پو هیږو بلکه‌ان‌په نړی‌کی دپښتو ژبی دلنډیولوړ اهمیت او عالی څرګندونی دخپل‌عالی مرام په‌لر لو سره‌ثابت شوی دی. داهم څو بیلګی چی په هغوکی‌دهیوادمینه په طبیعی ډول سره ننوتی او انځور شوی ده .

دوطن ترخـی می خـو راکـوای
خوراک می نه وای دپردی‌وطن ګلونه

دوطن جنګ ته ځان تیار کړه
یابه‌سر بایلـی یا به لاندی کړی بر جونه

دشهیدانـو بـــدل وا خلـــه
بیا دی وطن په غږ کی کړه خواږه خو بونـــه

وطن آرامه آرا مـی شـو
چی پښتنو ځـلمیو کیښو د ل سرو نـــه

وطن‌دز یړو ګـــلو باغ دی
موږکبر جنوورته شاکړه اوس تیری ځو مـــه
وطن ز ما د تن جـــا مه د ه
دتن جامه به لکه ګل غـوندی سا تـــمـه
وطن زما دپلار با غچه ده
دبیلو شویـو پر زړه ډیر دی ارمانونـه
وطن له مورو پـلاره ګران د ی
ژوندی‌د پـلارمړ دده غیږی تـــه ځمـه
وطن می بن دی دســرو ګـلـو
زه یـی‌بلبل دګل پر بن ناری وهمـــــه
وطنه زیری می د ر بـــانـدی
تو ل پښتانه‌دی په نامه‌سرور کو یـنه
وطـنه ستا په مینه مست یم
که ستـاپه مینه می‌سرځی زه‌یی ورکومه
جانان می سر به و طن کیښو
په تاردزلفو بی کفن ورله ګنډ مـــــه
موری لنډی توره می راکـــړه
په‌وطن‌جنګ‌دی ترخپل ځان قر با نومه
که‌په وطن دی سر ور نـه کـړ
زه په‌داپـاکـی شودی نه در وښښمه
که تور اور بل می میرا تیږی
په وطن‌جنګ دی جـانان نه منع کو مـه
د پښتنـــو ز لمیو و ا ر د ی
پـه‌خپل‌وطن په تور یالی ځان‌جاروینه
که‌دی و طن په‌ننګ‌شهیدشوی
بیابه‌د ی نحو نی د مزار سلام کو ینه

څو و طن رنګ په وینو نه کړم
راټول به نه کړم دبیرغ سره پـلو ونـه

څـان به سل ځای کتری کتری کړم
وطـنه تـــا به لـــه دښمنـه و ساتمه

الله دی دخپل و طن ته بو ځـه
پر دی وطـــن د سړو قـــدر کموینـــه

د گل سرخ سیـــل می و کړ
سخی رخصت راکه چی خپل وطن ته ځمه

خدایه هغه سا عت بـه کوم وی
چـی دوطن په بیرغ و شندم گلونـــه

خوله به له خپل یاره قر بان کړم
چی ترخوا ږه و طن خپل سر قربانـوینه

وطن له شاتو نه شیرین د ی
ما د نیستی له لاسه پری ښو ترینه ځمه

په زړه می خپل وطن و ریږ ی
لکـه دزانـــو قلقلی پسی کـــو مـــه

۲- دمینی او محبت په هکله:

دمینی او محبت کلمی په ژوند کی ډیری خوږی کلمی دی ، څکه چی ټولنه هم دمینی او محبت پهدنیا کی جوړه شوی ده ، او دمینی ا و محبت په خاطر هره ورځ و ده کوی او پرمخ ځی په لیکنی ادب کی که د خال اوخط ، سترګو او نرګس ، دوروځو او لنډیو ، د باڼوګانو او غشیو، تشبیهات وینو همدا د ولپه پښتو لنډیوکی هم دغه نازکخیالی په ډیره نازکی سره ځای شوی ده،لکه دیوه شاعر غوندیچی په شعرکیی نازك ترکیبونه لیدل کیږی،په پښتو لنډیوکی هم زیاتره داسیلنډیشته چیدخو ند پهبنسټ یو بشپړ غزل هم ور تهعاجز دی . پښتو لنډی محبت ډګر ته زیاتره دښځو لـــه خوارا ایستل شوی دی په دی معنی چی دښځو له خوا زیاتی ویل کیږی او دښځو ونډه تر نارینه وو پکی زیاته ده ، او حتی دلنډیو د تغزلیماڼی اساسیمضمون شمیرل کیږی لکه چی زموږ یوه لیکوال په دغـــه برخهکی اته کاله دمخه دزیری پـــه جریده کی لیکلیوو: پهنورو شعرونو کی زیاتره نارینه د ښځی لـه لوری غږیږی او هماغه نارینه دی چیدخپل نظر دفوکس په معیار دښځی ښکلا او نه ښکلا ؛ مثبت او منفی انعکاسڼاکی خو په لنډیو کیکهڅههم نارینه دښځی پهباب له غږیدو څخهنه دیمنع شوی مگر ښځه په خپله هم هلته حاضرهده. دځان اوډی نارینهپهبابغږیږی او هغه ار مانونه،شکوی او اعتراضونه چی دی دنارینه پهبارهکی هیڅکله دهغو دویلو حقنهدیترلاسه کړی. پهلنډیوکی یی وائی اوویلایی شی. نارینتوب لکه څنگه چی دایـی وینی اویایی غواړی افـادهکوی ، ټولو ارزښتونو پهباب خپله رایـــه

بنکاره او پر بنځه باندی د نارینـه غیر عادلانه تسلط بر بنډوی، اولـه دی سره سم دځان په‌باب هم خـبری‌کوی، خپله بنکلا او بنځمنتـــوب (انوشیت) په بنځمنه ژبه اودبنځمنو احساساتو پرګوتو بیانوی او متقابلا دنارینه په‌باب دهغه بنکلا میړانی ،انسانی ارزښت‌او پرمنفی‌ځانګړتیاوو باندی خبری‌کوی او ځان د خپلواکی اوځانګړی رایی میرمن بولی. اوپـه همدی سبب د بنځی داحساساتو اوعاشقانه درکونو په‌باب دلنډیو ژبه ترهری بلی ژبی رښتندویه او سمـه‌ژبه ده ...))

په‌پورتنی مطلب سره په پښتـو لنډیوکی نوموړی موضوع پـه ډیره بنه‌توګه رو بنانه شوه او څر ګـنده‌شوه چی د مینی او محبت په‌ځانګړی برخه‌کی هم پښتو لنډی دډیر لـوړ تخیل او عاشقانه اړیکو لرونکی دی لکه په‌دغه بیلګه کی :

باد دی پټکی لـــه سره یو سه
چی دا خیالی څنې دی ګډی و ډی شینه

اوربل دی یو طرف ته کوږ کړه
د مخ کوڅی دی راته خلاصی کړه مینه

مینه یم منکر ه نـــــه یـــم
که می شین خال اوس‌دچړوپه‌څو کو ځینه

لنده داچی په پښتو لنډیو کـی دژوندانه دغه اړخ په خورازیاته توګه ترسیم شوی دی او زیاتره بر خـه لنډی په دغه برخه‌کی ویل شوی دی ځکه نو داخبره په زړه پوری ده‌چی‌چی وایی :((ګل‌بی‌اوبو نه‌غوړیږی‌او ژوند پرته له‌مینی‌اومحبت څخه‌امکان نه لری))

ددی لپاره چی دغه برخه مو بنه‌روښانه کړی وی نو دبیلګی په‌توګه به ددغی برخی اړوندی لنډی د لتـه‌ولیکو :

آشنا می ځی نه را ستنیـــږی
که ورته‌کیږدم دسور کوشونډو سر ونه

آشنا می و لاړی مسا پر شو
زه یی‌تنهاظالم بیلتون ته‌پر ی ښودمه

آشنا چی ما ســره پـخـلا وی
زه غـــماز د لمسون څه پروا لر مـه

اوربل می جگ کړه خال می چپ کړه
دجنت گل دی پری تـازه به شی مینـه

ټو پك راواخله تازیان تو کړه
دشالیلاړ سینه زر کـی ناستی دینـه

ټوټی ټوټی می مور تـه یو سی
زیـری پری وکړی چی لیلا و ژلی د نـه

ټیك دپا چا خال دی وزیـر دی
دالونگین دی ر سالـه دار په مخ کی ځینه

که ددنیا شرمونه نـه و ا ی
تـا به منگی ووړ ، زه به تش درسره تلمه

سترگی می ستا لوری ته اوړی
خدای مهر بان دی گوندی وشی دیـدنونـه

سترگی می توری په رنجوکړی
دمسا پر جانان می غږدی را به شینـه

سخته رنځوره خدای دی جوړ کړه
درتگ می نه شی تش دعا درته کـو مه

سر به کـږه څنگـله کـیږده
مخ می راستون کړه ښکلوه شینکی خالونه

سرکړه را پور ته لـه کتا به
ستا دی کتاب تر ټکو ډیر دی زما خالونه

سرمی تر خپلی پیغلی جار دی
پټی به گرو کړم مرکی به ور لیـږ مـه

سوال دی په کوم زیارت قبول شو
چی پـه سپین مخ می اوښکی څی خوله درکومه

سوال دی په کوم زیارت قبول شو
چی، رنگه بنگه دی په غیږ کی پر یو تمـه

له دی نه لاوړو کی بنبه و م
دجینکوسره بـــه یو ځای گر زید مـــه

چی ددیدن نصیب یی نه و ی
په‌یوه کوخه کی سره وړاندی وروسته‌شینه

له مانه خوب کی خو لگی واخله
لـــــه پیغلتو به ار مانی را غلی یـــمه

په لاری تام مړاوی گل پروت و
مادځوانی لوبی پری کړی تـازه می کنـه

که یارانه را سره نـه کـړ ی
دومره خواوایه چی مین دربانـدی یمـه

د غره لمـــنه را تـــه نیسه
زه جینکو سره غاړولو پسی ځمـــه

له خوبه ویښ شه ځوانیمر گه
خولگی می واخـله په بانـه را غـلی یمه

ستا به‌دحسن دوران تیر شی
ز مابه پاتی شی په زړه سوی دا غونه

وطن خـو تا ظا لمـی وران‌کړ
چی سپنو پوندی گرځیدی په‌لوړ با مو نه

گودر ته ځـم را پسی را شه
منگی‌می درونـد دی نری ملا می ما تو یـنه

خاوند ، دا به ستا رضا و ی
چـی بنایسته جانان می تبی تیر وینه

خاونده داځل یی را جوړ کړه
خلك‌به وایی بخت یی‌تور دی یاریی‌مرینه

که یار می تور دی څه پیغوردی
تور خو بورا دی چی گلونه بو یوینـــــه

په نصیبونو بـــه جـــوړیږم

زه آشنا روغی راستی و هلی یـــمه

منگی می ټول په سینه غوټه کړ

دشیطانی‌منگی پـــه لپـــو ډ کـــو مـــه

آ خـــر به وران شی پیښوره

دننگرهار پیغلی ښیرا درته کـــو یـــنـــه

په‌تور پیکی دی باران وشـــــه

چی‌دسینی په‌منځ دی راشی سیلا بـــو نـــه

ربابه غبرګ مغزی دی‌ما ت شه

مین په مادی غم په تـــا غلطو یـــنـــه

نصیب می خپل دی را رسیږی

په یار بـــه و لی د جفـــا تور لګو مه

لیونی لا ړ ه کلی چـــول شو

څنګه بـــه چول کلی کی‌شپی سباکومه

لیلی لـــه نازه لیونـــی شو ه

پـــه غـــاړه ا خلی د مینو آزارونـــه

یاره د زړه منډه ر ا و کـــړه

دبیلتانه‌سیلـــو پـــه مخ ا خیستـــی یمه

یـــاره یاری را سره و کـــړه

دبیلتانه د ر یـــاب لاهو کړم مړ به شمـــه

یوځل می ته په دیدن موړکړه

بیا دی راپریږده میړ نی چی چی تا ساتینه

یومی غموزړ گی را خو ړین کړ

بل مـــی آشنا لـــه یـــاری واخستل لاسونه

یو می کتـــاب زړګی‌راخوړین‌کړ

بل‌کبرجـــنه نجلی خو له نه راکوینه

چیری په لری در نـــه لاړشم
چی دی‌د حسن دوران تـیر شی را به‌شمه
جـــانانه ته دی خفه نه و ی
ز ماکه‌عمر په سره اوروی تیر به شینه
جا دو گر ډیـر را نه چاپیردی
دخپل‌جانان څخه می لری گر ځو ینـه
جانان می خو له که ژبه غواړی
به خوندیی‌نه دی خپل قلنگ جاری کوینـه
دپسرلی په ور ځی را شـــــه
چی تور ټکړی در ته کړدی و غو ړ و مه
که توره یـم تا به رنځور کړم
دمینتوب‌اثر په ستر گـــو کـی لرمـه
که‌خدای‌کول خدای‌به‌می‌درکړی
مادی‌د سر پر زیارت ایښی دی لا سونه
هلکه، خدای‌دی‌څوانمرګ‌کړه
چی‌په‌یاری نه پو هیدی رسوا دی‌کړمه
شفـق‌یی مه بو لی عـــا لمه
آسمان زماپه ژړا وینی تو یو یـنـه
ستادی‌سروشونډو غلاشوه‌گرانه
په‌لنډه زنه‌دی شین خال پیره کوینه
ستا دی قسم‌وی خولگی راکـړه
نور می‌دغم په اور کی مه سو ځـه مینـه
عـــالمه سترگو ته یی گو ر ی
داکج‌باڼه‌یی تر سا لو ختلی د یـــــنه
نور به ار مـــان راپاتی نه شی
که می‌داستا په سینـــه وکول خوبونه

نه ګلالی یم نـــه بـد ر نګـه
زهغنم رنګـــه یم ځـوا نان رنځور ومه

خاونده پـلار می لیونی کـړی
دآشنا غږ پسی پ نـــده شبکوره شومه

خدای به‌دی‌بیارا ته محتاج کړی
ځوندی‌ځوندی څنې می بیاراغلی دیـنه

خدایه نری‌نری با ران کـــړی
چی سالووالی دلونګی احتیا جـی شینه

خلك په چول کی تلا کـیږی
زه‌دلیلی‌د کـــور پـه مخکی تـلا شو مه

خو لګی به خاوری در له‌درکړم
بی‌پته‌یاره په کو څو وایی حـــا لو نه

خو له می دځې له لوری واخله
چی‌خماری‌ستر ګی په څنګ د رواړومـــه

خون به می ستـــا وی زمایاره
که‌می د او ښکو سیلاب یو سی عالمو نه

د یارانی حجت تری وا خلـــه
په اوسنیو نجو نو نشته بـاـ و رو نه

د یار پر وا را باندی نشتـــه
خوشی‌ملنګ له ځـانه و لـــی جوړ ومه

زما په سپینه خو لګی مړ دی
عالمه‌مه یی لمبـوی شهیـد بـه و ینه

سترګی دی توری ماته ګـوری
دکاکـا لوری ما به ورك کړی له و طنـــه

سو داګری د ستر ګو ګـوری
دیدن‌کوی‌زړه په بـدل کـی و ر کو ینـه

شکر کوی نـــا شکری مه کړه
چی‌سپین‌مړوند دی زه تر سر لاندی کومه

عالمه راشی نـــنداری تـــــه
شمعه د ناز خنـدا کوی پتنگ سیږینـــه

غمونه ډیر را نـه چاپیـــر دی
جا نانه ستاغم‌یی پاچا نوریی پو ځو نـــه

کلا دی لوړه تـر بر جو کـړه
کنډویی‌پریږده چی سالو می بادوهـینـه

وړه نجلی‌گوره چی‌لـمونځ‌کړی
قبول‌یی‌می‌کړی تور پیکی پر خاورو ږدینه

کـه اشاری کړی د بنو کـړه
دسپینوغابنوخنـــدا مه‌کړه څوك بـه وینـــه

که د بانـه قا تلان نـه وای
به‌دروازه کـی به دی چـاکړه فر یا دو نه

که دی په بر کلی کی کاروی
بـه لیونی‌آ شنـــا می و ا یـــه سلامونـه

لا لـــیه تاکی گناه نشتـــه
لیونـی زه وم چـــی پـــر تا مینه شومه

لکه چی واوره و **یلی کیـــږی**
د جانان‌غم می داسی تن اوبه کو ینـــه

لیلا له‌نا ز ه **لیـــو نی شـــوه**
پـــه غـاړه ا خلی د مینـو آزارونـــه

مخلو قه کوم یو به ئی وا خلـم
بیلتون‌او غم دواړه جوړه را غـلی د ینـه

موری‌کـو چیانو تـه **می‌ورکړه**
چـی توری ز لفی می دغرو شمال‌دمینه

۳ـ حماسی برخه:

حماسه‌په‌ادبیاتوکی **ډیر لرغونتوب** لری . په‌لرغونی کی خورا زیات حماسی آثار د مختلفو هیوادودویاړنواوبریو **په څنګ کی‌لیکل شوی دی.** خویوه ټکی **ته‌باید اشاره و کړو چی** دتاریخ په‌اوږدوکی کرار کرارلرغونو حماسو خپل ځای دټولنی دپر مختګ سره سم نویو او دنوی عصرحماسو ته بریښود د لرغونی نړی او اوسنی**عصر په‌حماسی آثاروکی دووټکو ته** گوته نیول شوی چی دغه دوه ټکی په‌لرغونی‌نړی کی تصویر اوپه‌اوسنی نړی کی تحلیل‌دی په اوسنیوحماسو کی تحلیل لوړ اهمیت **او لوړ دریځ** لری حال دا چی په لرغونی نړی کی‌دتحلیل اهمیت او دریځ تصویر په **غاړه اخستی و .څکه‌نو په‌لنډه توګه‌داوایو چی اوسنی حما سی آثـار د** ربښتنی او واقعی تحلیل‌محصول دی.

حماسی آثار دیوه قوم دمیړانو او بریالیتوبونه څرګندونه کوی، پـه مختلفو تاریخی حالاتو کی څه‌دهیواداو څه د خلکو په مقابل کی د هغوی نه ددفاع او ننګی په حالاتوکی **رامنځ‌ته‌کیږی . په‌دغه‌بر خه‌کـی د چیلـی** انقلابی لیکوال **او شاعر پابلو نرودا** داخبره ډیره پر ځای ده .

لکه چی لیکی : ((کله چی انسان آزادی نه لری دهنر او ادب لاره‌داده چی ځان دآزادی خدمت ته‌وسپاری، که چیری داسی ونه کړی دشته‌والی هرراز حق به دلاسه ورکړی))

ددغه نامتو شاعر دهمدغی خـبری‌پربنسټ په‌پښتو **لنډیو کی هـم** انسان دآزادی دهغه د نیکمرغی او سوکالی په خاطر داسی مرغلری‌پیل شوی دی چی هم درزم ځواب وایی‌اوهم دبزم ، پښتو لنډی **هغه‌سندری**

دی چی حماسی برخه خویی یا مخامخ په‌جگړه کی ویل شوی اویاداچـــی‌د جنګ او جګړی په حالاتو کی جوړی شوی دی .

او تر ټولو عالی هدف‌یی هم‌دخپل هیواد او خپلو خلکو له روا حقو قو څخه ننګه ده او بس .

د پښتو لنډیو حماسی اړخ کلـه کله کولای شی چی دهیواد د تاریخ یوفصل یواځی په‌یوه لنډی‌کی‌تشریح‌کړی لکه دملالی داسندره چی وایی:

ـــــ که په میونـد کی شهیدنه‌شوی
خدایږو لالیه بی ننګی ته دی سا تیـــنه

دمیوند جګړه ، یوه تاریخی‌پیښه‌ده چی‌په‌دغه جګړه کی انګریز ا نـو ته خورا زیات تاوانونه ورسیدل.که‌چیری‌نوموړی موضوع په‌بشپړه‌توګه تشریح کړو ممکن ډیر وختونه پری تیرشی مګر په پورتنی لنډی کی بیا زموږ دخلکو د میوند حماسه یواځی په یوه لنډی کی ځای کړه شوی‌ده.

په دغه برخه کی ز موږ د خلـکو مبارزی ، بر یالیتوبونه ، او ناکامی په تمامه معنی څرګندی شوی دی . ځلمی یی دبریالیتوبونو خواته‌هڅولی ترڅو چی د ناروا دښمن نه میدا ن یوسی او بر یالی راستون شی لکه چی وایی :

دشونډو سور شربت‌به‌در کړم
که له مورچله دی بری راوړی و یـــنه

په‌ناموس ننګ په‌وطن جنګ‌دی
د وطن جنګ ته په غورځنګ ورځه مینـه

پاس په سنګر ټکونه و شول
میړونه‌مری‌موزیان به‌روغ کو رته را ځیـنه

دلنډیو دغه برخه دخلکو د ویاړو او کار نامو دترلاسه کولو په حالاتو کی دخلکو له خوارامنځ ته کیږی‌ځکه کیدای شی د هر تحول او پر مختګ سره سم د هغه انځورګری وکړی . لنده داچـــی د حماسی اړخ د ښه څرګندوالی په خاطر به‌دغه حما سی‌لنډی ولولو چی زموږ دخلـــکـود قهرمانیو په حال کی ویل‌شوی‌دی :

اوس به‌خولګی درځینی‌جارکړم
چی‌دپښتون په ننګ دی و کړه‌شوګـیرونـــه

یوخوا ته‌ننگ‌بل خواته‌مرگ‌دی
مرگ می قبول دی بی ننگی نه قبلو مـــه

جـانان به و لی توره نه کړی
تـــر نیمایی مر چله زه ور سره ځمـه

آشنا می سور کفن اغو ستـی
په استقبا ل‌یی پر بښتی د لا ر ی دینـــــه

جانا ن په جنگ کی تور ه‌وکړه
ځکه‌همزو لی راته کوښمی سمو ینه

جانانه ځه پرو طن جنگ د ی
په پښتـــــو ننگـ دی‌پر دښمن وکړه‌تاختونه

جانانه‌پاڅه روانیږ ه
کاروا ن تیر یږی ته‌به پاتی شی مینـــه

پاس په‌سنگر ټکو نه و شو ه
میړو نه‌مری موزیان‌به‌روغ بیرته را ځینه

جانانه زیر ی می در باند ی
دښمن دی‌یوموټی ایری شو بادیی‌وړ ینه

په‌نا مو س ننگـ په‌و طن جنگ‌دی
دو طـن‌جنگـ ته‌په غور ځنگـ ورځه‌مینه

په مور چل نیغ ور ځه ټیـــټ نه‌شی
پښتون‌زلمی له مر گه څنگ نه‌کړی‌مینه

تردی بوړ ی ټوپك دی ځـا رشم
په اوږه‌ستادی کړه زه د خیاله ځمـه

تیرا نا موس پښتنو دی
تو پـــك‌راوا خله پر نگیا ن تیرا ته‌ځینه‌ه

چی دپښتو ن دتوری شر نگ‌شـــــی
د جنگـ‌میدان کی غلیم لاره ورکـ و ینه

ځان دوطن جنګ کی شهیـــدکړه
چـــی جنازه‌دی دآسمان ملکی و ړ ینه

دتور ټوپك به دی ځنډی شـــم
چی ورمی نه‌کړی دناکسو په‌لاسو نه

دشو نډو سره شر بت بـــــه‌درکړم
که لـــه‌مور چله دی بر ی راو ړ ی‌وینه

دخپل نیکه توره راوا خلـــه
ظالم دښمن په اټك پوری کړ ه چی ځینـــه

زما وصال د هـغه چا دی
چی پـــــه‌میړا نه یی میدان ګټلی و ینه

که تښتیدلی په شا را غلی
په تاحرام‌دی دسر کو شو نډو سرو نه

غرو نه به‌و لی نه غټیږ ی
چی‌پښتا نه‌پری دغیر ت چیغی و هینـــه

سباته بیا دجنګ وعده ده
موذ یا نو وتړل په شنو لتو سرو نـــه

دننګـ غیر ت میدان کـــــی‌مړ شی
چی‌جنکی دی په ګودر صفت‌کو ینه

دننګیالی جانا ن دپاره
زه دواړه‌لا سه‌ږ په نکر یز و سره کومه

پښتنی پیغلی خو شا لی کا
چی ځلمیا ن‌کاندی له انګریز سره جنګو نه

پښتون‌د جنګ په ډګر مـــــړ شو
پښتنی نجو نـــی‌یی په‌و ینو ږدی خا لو نـــــه

پښتو کوه که‌ته پښتون یی
ماپر پښتو باندی ګاللی دی غمو نـــــه

پښتنو سرو ما ل قر بـان کړی
چی خپله مینه مو پرد ی نه شی مینـــه
یعقو ب یٔ ی وړی کلکتی ته
څکـه څوانا ن نن د میو ند جنګ لره ځینه
دپښتنو ژبی ور ګډ شول
دښمنا ن مـړ ه شول لاس یی سره په وینو شونه
سنګر دځان په وینو سور که
چی شاو خـــواپر تا غاټو ل زر غو نه شینـه
زما خو لګی دهغه چا ده
چی بـــی ننګی ته یی طلاق ور کړی و ینه
یاری دنر ځلمی مزه کا
دانر ښځـــی په لښکر ما تی ګډو ینـــــه
پښتو نستان کی غلغلی شوی
ځلمیا ن ټولیز ی په و طن سر ور کوینه
پښتانه وا ړه سره یو دی
ورك د ی نفا ق شی چی به دوی جلا کوینه
جانانه ودی سوم لمبه شو م
زمـــاهمزو لی دی بی ننګه یادو ینه
جانانه هلته دی خدا ی مـــل شه
چی دټو پکـوله خو لی خیږ ی شنه دودو نه
جګړه جګړه وایی جانانه
دا ډیری توری دپښتون دی عاد تو نـه
جګړی ته ما درسره بو څه
چی د ی په جنګ کی کـومکی ولاړ ه یمه
جنګ مودکلی منځته را غی
جا نا نه پورته شه چی ملادی وتړ مـــــه

جنگ ته بمبل ږیره ور ګـــډشه
تور ەدر وا خله هلکا ن ببر تەراځینه

جنگ خو نن بیاجوشی تەرا غی
ځوا نا ن ځنګلی لګو ی اټك ګټینـــه

جنګ یی دکـلی خواله راوږ
نته دی ډا ل کړه په چار ګل کړه ګوزارونه

چونې پەتو پو نه نه ږنګیـږی
تکړەزلمیان یی په ټو پکو ږنګو ینه

چی توری نه کړی نو بەځـــەکړ ی
چیدی شودیدپښتنی رود لی دینـــــه

چی جنګ ته ځی خو لګی مـیوا خله
چی تږ ی نەشی دهجران په میـدا ټونـه

چی جنګ ته ځی مابو خـــەیاره
تشی تولی به دی په جنګ کیډکو مه

چی دخا لو لښکری را غلی
زه بەګو مـل ته دخپل یاردیدن له خمـــه

عجیبه خو ند دشها دت دی
دځنکد ن سلګیو هم ژ ډا را ځینـــه

ځوانانو ننګ راباندیوکړ ی
پـلار مـــیظالم د ی مابنامار لرەلږینـــــه

خال به دی یار پەوینو کیږ دم
چی شنو باغو کی ګل ګلاب وشر موینه

خدای دی دقام مخکې شهیـــدکـــړه
دز نـیخا ل بەستا په سرو وینوو همه

خدایه بی ننګه زوی را مه کړی
که پـــەدیدن پسیی ږو ند پەسترګوشمه

PROPERTY OF ACKU 6344

ـ که‌ته شهیدشو لی جانا نه
په تـو رور بل به دی زه قبر پاکو مه

ـ که ددښمن نه په څټ را غلم
بیا مـــی پښتو ن دتیرامه بو له مینـــه

که می دښمن ته جنګ کی‌شاکړه
دسپلنـی په شان دی اورکی وسو څمه

که‌نامردی دی‌جنګ کـی و کـــړه
لکـــه‌ددښځو به ټکړی در په‌سر کـړمه

لالیه سر په وطن کیږ ده
چـــی‌دهمزولو له پیغوره خلاصه شمـــه

له‌تورو څنګ مه کړه لا لیه
څوا نا ن‌پر سرو تورو ورځی نجونی‌ګټینه

مبارکی راکړ ی عالمه
جانا ن لـــه‌جنګه ډیر بندیان راو ستی دینه

ـ مرچل ته‌بی له ما نه مه څه
مر چل‌ته سمه در سره څمه مینـــه

ملا وی تړی په بیـړه بـــیـړ ه
خاو نده خدا یـه‌څوانا ن کو می خواته ځینـه

ـ موری دا خپل بو ړی مـــــی‌راکه
په سنګـــرخیږ م پرنګیا ن راغلی د ینه

ـ میرویسه رب د دیداروکړ ه
چی مو ږ د ی خلاص کړود پر دو له‌منـتو نـه

ـ نن په ملکو نو کی اختر دی
دشهیدا نـــوارواحا ن آسما ن ته ځینـــه

ـ نن په خیبر دځلمو جنګـ د ی
خو شا له‌پاڅه چی مغل را غلی دینـــه

وروریی غزا له په غور ځنګځی
خوریی چاړه په باټ و هی‌ورسره‌ځینه

بی ننګی مه کوه جانانه
په بی ننګ ـی‌جنګـــی چا ګټلـی د ینـــه

بی ننګی تاو کړه جانا نه
دجینکـــــو پیغور دی ما ته راوا ستنـــــه

بس کړی پدی یی فیصلـــــه کړ ی‌ء
وطن تری‌واخلی انګر یزو شړ ی مینـه

ـــــ بری به‌راوړی که خدای کاند ی
ځلمی دننګـ‌جا می په‌تن میدا ن ته ځینه

خدایه په جنګـ کی بـــــر ی‌راکړ ی
شیر ین آشنا راته دخو لی ویلی دینه

خدایه له‌کفره سره جنګ د ی
سپینی سینی به ځوانان ږدی په‌کو ندا غـو نـو

ـــــ خود به می سر تر آسمـــا ن‌تیرو ی
چی لوی‌بادشاه‌مو احمد شاه په مخکی ځینه

خو لګی دی راکړه خپله یاره
سخته جګړ ه ده مور چل په لوری ځمـــــه

داژنی څه بدی‌بـلا دی
تورو ټو پکو ته‌ورځی په غور ځنګو نـــه

د ژبی سر می شو ټنا کی
چی د بی‌ننګه آشنا نوم پری یادو مـه

دشهیدانو بدل وا خله
بیامی کوه دسینی تخت باند ی خو بو نه

دجینکو سرداره زه شو م
چی می آشنـــامور چل پـــه منډو ونیو نـــه

دنا مردی احوال دی را غی
که پر ډیلی یی پسی ښکته ځه مینـــــه
دنتکی لال به پری خیرات کړم
که‌می‌آشنا په‌دښمن مات‌کړی‌سنگرونه
د هندو ستا ن پیر نگی ژا ړی
که ژیړایوب په دنیا و کو نه ی به شو نه
سبا به جنگـ په سپین میدا ن وی
ځوانا ن بـه‌وینی تویوی جنگ به گټینـــه
سبا په سپین میدا ن غزا ده
تر خدای می ځارکړی پښتانه غزا ته ځینـــه
شهید ه تا لره به در شـــم
مراد می‌حاصل‌کړه سور بیرغ در ته راوړ مه
غیرت کوه غیر تی یاره
چی په‌تو لگی دجینکو کی میره شمه
کابل ته مه وا یه چـــــــی‌وران شی
په کی‌پرانه‌دی پښتانه دننگ میړو نـــه
که‌په ځلمو کی بریا لی شو ی
قسم می‌کړی دیاری لاس در کـــو مـــه

۴ـ طبقاتی برخه:

په‌پښتو لنډ یو کی طبقا تـــی‌انځور گری هم دیوه مهم اصـــل په‌توگه را منځته شوی اودا اصل‌په دغه برخه کی هم دټو لنی‌دودی له‌قانونمندی سره اړ و **ندځـــای**‌کړ شوی او انعکاس یی موندلی دی، زموږ دټو لنی په طبقا تـــی‌جو ړښت کی **دعلمی نړی‌لیدپه رڼا** کی ډیر ی وړی او لویی خبری‌شته‌اچی دلته‌یی څر گندونه په زړ ه پوری نده . طبقا تی انځور گر ی‌دټو لنی دطبقو په را منځته کیدو سره دټولنیز شعور تل ته‌ورننوتی‌او دیوه علمی او ټاکلی اصل‌څای یـ ی‌دبشر په‌تاریخ کی څر گنـــد کړی دی . چی په دغه تا وده ډگر کی‌زیاتره شاعرانو ، لیکوا لو هم‌په‌زړه پور ی ونډه اخیستی ده ، دپابلو نرودا توپانی سندر ی د طبقاتی جگړ ی په‌زړه کی رااوچتی شوی دی چی لیکی :((خو شا له‌شم چی شعر می د خلکو په‌زړونو کی لکه مشال و سوځی اودد وی‌لاره روښانه کړی)).

په‌پښتو لنډ یو کی هم دغه‌لاره‌روښانه شوی او په سلگو نومثـ لونه‌یی تر لا سه کولا ی شو . دفیو ډالی ټو لنی په‌زړه کی یی د زیار ایستو نکو غږ په انقلا بـــی‌جرئت سره پورته کړی دی.لنډی دخلکو مال دی او خلك زمو ږ په‌ټولنه کی په اکثریته تو **گـه زیـار** ایستو نکی په‌تیره بیا((بز گرا ن)) جوړ وی چی لنډ ی دزیار کښانو دتوری په‌توگه په طبقا تی انځو رگری کی څپل لوړ دریځ څر گند

ساتی . دپښتو لنډ یو په طبقا تی اړ خباندی ډیر څه نه دی لیکل شوی یواز ی زموږ نا متو لیکوا ل او شاعر سلیمان لایق چی دطبقاتی مبارزی په بڼې کی پوخ شوی، دغه اصل ته یی پا ملر نه کړی او په دغه برخه کی لیکی چی :((... په طبقا تی ټو لنه کی هره طبقه لنډیو ته خپ ل اجتما عی ر نګ او عطر ور کوی اود خپلو ارما نو نو، عواطفو او ذوقو نو غو بښتنی ورلیږ دوی. دلنډ یو فور م دلفظی جوړښت له مخی دساز دالی مثال لری چی هرځوک دخپلی خو بنی نغمی او غاړ ی په کی غږوی . ځینی په هما غه ټاکلی او مشخص فورم کی هره اجتماعی طبقه او قشر خپل ارمان بیانوی ، لنډ ی د پښتنی ټو لنی طبقا تی تنوع روښا نه او بی ریا څر ګند وی او بی له دی نه چی دطبقاتی تضادو نو دبر بنډولو د توضیح او تصنیف دنده په غاړ ه وا خلی او یاپه دی باره کی در س ورکړی... دلنډ یو بنکلا دهغو ی دطبقاتی هر ډول والی په غناکی لا پیاوړی شوی ده اود پښتنو ، د فیو ډالی او قبایلی پوړ یو هنر ی ار زښتونه یی تر بل هر فن زیات توضیح کړی او بنکار ه کړی دی. دلنډ یو ژبه د هر بل شعر تر ژبی زیاته طبقا تی ده....)) که چیری دغه اصل په خپله په لنډیو کی و څیړو نو څرګنده به شی ،چی دلنډ یو طبقا تی څرګندو نه خورا او چته بنکاری ځکه چی زیا تره لنډی دزحمتکښی طبقی له خو ارا منځته شوی لکه چی دالنډ ی لولو:

دیوال سوری کړ ه ګو تی راکړه

پلارمی ختګر دی بیا به جوړ کړی دیوا لو نه

که ته رښتیا په ما مین یی

غو یی حلال کړ ه سپاره ما ته کړه را درو مه

پدی ډول لنډی کی چی هلته طبقاتی ترسیم پکی شو یی دی ډیر مثالونه لری خو یو څه باید دیاده ونه باسو چی د حاکمی او محکو می طبقی دترسیم مو ضوع پدغولنډ یو کی لیدله کیږ ی نه د دطبقا تی تضادو نودټکر اصل ځکه نو دا ډول مثالو نه هم شته لکه :

موږی خانانو ته می ورکړ ه

چی تور پیکی می دکړ کی شمال و هینه

ددی له پاره چی مو ضوع تەبنه ځیر شو نو څو بیلگی دلته پـه لاندی ډول رالیکو:

زما پر هغو سلام وا یه
چی دمابنام ، ډوډی له او بنکو سره خورینه

راشه زما دپلار مز دور شه
په مز دور ی کی گو ندی مادر کړی مینـه

بازارانه ورو، ورو ووریږه
د مسا پـــرجانان می نشته دالا نو نـــه

پاچایی تخت می په کار نه دی
جا نا ن بەلو کا زه بەو بڑی ټو لو مـه

جغ پراوږ ه ، چو که پـه لا س کـــی
زه د بیلتو ن بویی ترم اغزی کر مه

چی لوا و لور شی خوار ی زورشی
په بخملـی گو تو به وږ ی ټو لو مـــه

دپسر لی لوو نه گډ شو ل
نجلی په سرو منگو لو وږی ټو لوینه

ستا آشنایی داو بـو و رخ دی
چی چنارونه پکی بند م او به یی وړ ینه

یار می دسرو غنمو لو کا
سپینه خولگی سبانار ی ور ته ور وړ مـــه

یار می دډاگ گر میو و سو
زه به د سپینی خولی شبنم پری او رو مـــه

یووارې توره لنگی وکړ ه
بیاکه شړی په سر کوی یاره دی یمـــــه

په کشمالو کی ور ته پټ شو م
نجلی دغوا ووغوښه ده را بـه شینـــــه

پسر لی ښه بارا ن یی بـــــدی
نجلی وا ښـــــه‌کړ ی تور اوربل یی لندو ینه

خدای دی زما کړه غو نـــې ی‌منې
لنډ ی‌کچر به چلوم تابه سا تمـــــه

زما په غاړه دی شړی وی
داستا کمیس‌به دبخملو جوړ و مـــــــــه

چی لوکوی گو تی به پـــــر ی‌کړی
که در پـــــه‌یادشی زمادمینی مجلسو نـــه

جبـــل‌و همـــه دنیـــا پر ستـــــه
زما دی‌کټ‌کټ‌خندا هیره شو ه مینـــــــــه

چی لو کوی گو تی به پـــــر ی‌کړی
پلار تـــــه دی‌وایه چی لو گری وا چو ینـــه

خدایه داخپل همـــــز و لـــی راکړ ی
که نیستـــی‌را غله په خندا یی تیرو مـــه

راشه دخان نو کری پر یږ ده
نوکر ز ماشه سپینه خو له‌به‌در کو مه

زما د خان ماما نو کـــره
دتمبا کو پـــــه‌ځای لو نګ به در کـــــو ینه

زما لا لی که بټیاری دی
جانان دی ښ‌کړ ی زه به اور ور وا چو مـــه

۵ـ ځینی نوری ښکلاوی:

په پور تنیو ځانګړ تیاووو بـــر سیره ډیر نورټولنیز مسایل هـــم په پښتولنه یو کی ځای کړ شو ی دی .یو څه چی دسړ ی پاملر نه وراړو ی هغه دادی چی دپښتنـــو دژو ند په ژړه پور ی هنداره ده . ددغو پرګنواړیکی، عقید ی،دودونه تاریخ اود ژو ند خو شا لی داټول هغه مواد دی چی په پښتو لنه یو کی ځای شو ی دی . دپښتنـــو ددودو نو او کلیوا لی ژ و نـــدانځور گر ی .کلیوا لی مینـــه او کلیوا لی میلی او نورو شیا نو په هکله موږ ته په ژړه پور ی تابلو په لاس راکو ي کو م مفا هیم چی په کلیوا لی ژو ند کی ډیر معمو ل دی گودر ، پسر لی ،اختر ، وا ده اوداسی نور دی چی په پښتـــو لنه یو کی هم دغو مفا هیمـــــو بیا خپل ځای داسی غوره کړ ی چی دلوستو نکی په احسا سا تو، او افکارو باندی له لوستلو سره سم اغیزی کوی دبیلگی په تو گه گودر .

دپښتنی نجو نو دمیلو ، خندا وو او کله هم دمینی دو صا ل په ژړه پور ی مر کز دی ، چی معمولا هلته منګی راوړ ی او په وار سره څوك تری ځی او څوك ور ته راځی . داصحنه په دوه لحاظه ډانځور وړ ده یو خو دا چی دخوشا لی و خت دی اوبل داچی پیغلی په هـــمـدغـه وخت کی کولای شی له خپلـــو هـمـزولـــو سره ووینی او دژړه

خواله ورسره وکړ ی څکه نو په‌ځای به وی چی گودر په پښتـــو لنډ یو کی و گورو.

په گودر سور سا لو بنکار ه‌شو
ما وی د ی تورو او بو اور واخیست مینه
په گودر راغلی برابره
یا خو لگـی راکړه یا منگی در ما تو مـــه
گودر ته څم را پسی را شـــه
منگی می‌درو ندی نری ملا می خوږ و ینـه
نن دگودر تیږی لمدی د ی
گو ما ن می کیږ ی چی لیلا لمبلی دینـــه
په‌گودر نښه راته کیږ ده
دماز دیگراو بو ته څم وابه یی خلمـــه
په گودر سپینه سپینه اوړ ی
په سمه لاره‌تیر ید م و دی و یشتمـــــــه
په گودر گنی و نی کیږ ده
چی شا لیـلامنگی په سیور ی ډکو ینـــه
که‌ته رښتیا په ما مین یی
دگو د رغاړه اجاره‌وا خله مینـــــــه
گودر ته څم راپسی را شه
یوه شیبه به‌دی په‌نښه زړه‌ووینمه
گودر ته څی په مخه را غلی
گیبی گیبی‌پر توگ دی لار نه راکو ینه
خاو نده بیا دی ماز دیگـــــر کړ
په گودر جوړشو ه د منگیو کتارو نـــــه

پسر لـــی :

دپسر لی په ور څو را شه
چی تور ټکری‌در ته کیږ دی و غوړ و مـــه

طباق

دپسر لی ښه باران یی بـــدی
نجلی وا ښــه کړی تور اوربل یی لمدو ینه

دپسر لی په راتلو پوه شوم
جینکوراوړه په اور بل کی زیږ گلو نــه

دپسر لی په میاشت دی مر گ شـــه
شنا خته ددی گل شه چی عالم یی بو یوینه

دپسر لی نری باران دی
باد دپر وا ن دکو هدا من مزه کو ینـــــه

که دی جانا ن غمو نه نه وا ی
دپسر لی تر گل به زه نازکه و مـــــه

زما دزړه گلاب دی مړ او ی
بیاپسرلـــی کړی چی یی شنه شی سره گلونه

خاو نده بیادی پسرلی کړ
جونه شوتـل کړی ځلمی ټول سیل کو ینه

اختـــر :

که داختر په شپه رانه غلی
نصیـب دی مه شه دلنډ ی زنی خا لو نـه

یاره گیله می شوه در باند ی
پر نو ر و خلکو دی اختر په ما غمو نـه

څه داختر په سبا را شه
زه به دروو څم توری ستر گی سره لاسو نه طباق

خلك اختر ته جا می مینځی
زما جا می دیار په بوی نه یی مینځلـــه

خلك اختر ته خو شا لیږ ی
زه په گولوویشتلی زړه ټکو رو مـــــه

خلك به‌وایی چی اختـر د ی
په ما خو نه‌دی له آشنا نه بیله یمـــه

ـــ خلك اختر په‌ورځ د یـــدن کړی
زما قلـم کاغذ په لاس بیدیا ته ځـمه

خلك کالی کو ی اختر د ی
زه دشهیـد جا می په خوا کی گر ځو مـه

دید ن :

دید ن په لك خندا په زر ده
د سپینـی خولی بیه به نه **معلو مومـــه**

دیدن په‌لك روپی ارزان دی
پلو می‌با دیووړ وړ یا دی و لید مـه

دیدن دی کړ اوردی پلمه کـړ
نه دی او ر واخیست نه‌دی وکړه **دیدنو نـه**

دیدن دی‌و لی قیمتی کړ
زه دی‌په‌کومه گناه و نیو م مینـــه

ـــ دید ن په سیند کی را لا هـوکړه
دتو ر وزلفو جال په‌لاس ولا ړه یمـه

ـــ دیدن به‌و شی یاو نه شی
تگ می پلمـه‌دی دیار کور به وو ینمـــه

ستاد دید ن په تمه‌تمه
کچکو ل په غاړه گرځوم ملنگ‌دی کړ مه

ستا د دیدن باران دی وشی
چی پری تازه‌شی هجرا ن و هلی زړو نـه

بیا هم په‌پای کی ددی خبـر ی یادول ضرور ی دی چی :و لسی ادبیا ت دنه تما میدو نکی چینی‌غوندی دی. په دغه‌برخه کی مو ږ ته څرگنده شو ی چی پښتـــولنه یو دخلکو دوژ ند له‌تل څخه په‌خه ډول عکاسی کړی ده، خـه‌ډو ل یی د هغوی درز م او بز م

هسکو څو کو ته ځان رسو لی دی او په‌څه ډول یی داجتما عـــــی جوړ ښت څرګندونه کړی ده .که‌چیری **په دی برخه کی** ښه‌پاملرنه وکړو نو دانتیجه ترلا سه‌کوو چی‌لنډ ی دپښتنی ژو ند ،دهراړخیزی هندار ی په‌توګه‌کولای‌شی‌چی‌ددغو‌خلکو دویاړ نو ، دودو نو ، تاریخ او هنر په هکله ښه مواد په لاس راکړی.

چی نومړ ی اړ خو نه یی په‌پور تنی لیکنی سره یو څه مو ږ ته‌روښانه شول . لنډی هم نـــه‌تما میدو نکی چینه ده چی‌د خلکو دلو ی تو پانی سمندر څخـــــه‌رابهیږی اود خلکو دمینی اومحبت تنده ور باندی ماتیږ ی ځکه‌داسمه‌ده‌چی:

راځی راځی چی لنډی پریږ دو
لنډی‌خوږی‌دی دیار غم تازه کو ینـــــه

راځی ،راځی‌چـــی لنـــډی پریږدو
لنډی چړ ی‌دی دزړو څو کی‌پری کو ینه

***

PROPERTY OF ACKU 6344